



**په امریکا کې ناندرۍ او سیاسي کړکېچ**

د ۲۰۱۹ میلادي کال جنوري پر ۱۹مه د «الجریره نټ» د راپور پر بنسټ د امریکا د استازو د مجلس مشرې نانسي پیلوسي د یاد هېواد ولسمشر ټرامپ افغانستان ته د خپل سفر د جزیاتو په ښکاره کولو تورن کړی دی، چې کانګریس له یو پلاوي سره یې افغانستان د راتګ هوډ درلود. ځکه نوموړی یې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو او د یاد هېواد د اوسېدونکو د ژوند له ګواښ سره مخ کېدو مسول وباله.

پیلوسي له هغه وروسته په یوه سوداګریزه الوتکه کې افغانستان ته د راتګ لپاره چمتوالی ونیو چې ټرامپ په نظامي الوتکه کې د نوموړې د راتګ خنډ شو؛ خو د پیلوسي د دفتر د بیانیې پر بنسټ کله چې د امریکا حکومت د نوموړې برنامې ښکاره کړې، خپل سفر یې وځنډاوه. په سپینه ماڼۍ کې یو چارواکي دغه تورونه رد کړل، د ټرامپ او پیلوسي تر منځ دغه اختلافون په امریکا کې د حکومت د ځینو برخو له تړل کېدو سره یوځای دي، چې کابو تر یوې میاشتې اوږي.

د سپیني ماڼۍ ویاندې ساره ساندرز د دغو اختلافونو د توجیه په اړه وویل: «له شک پرته په حکومت کې د پیلوسي د پاتې کېدو لپاره هڅې او د حکومت د ځینو برخو د پرانیستلو لپاره خبرې له څلورو اونیو راهیسې روانې دي؛ چې د امریکا په تاریخ کې د حکومت د ځینو برخو تړل کېدو تر ټولو اوږد ځنډ دی.» د حکومت د ځینو برخو تړل کېدل د فدرال د ۸۰۰ زره مامورینو د بې معاشه کېدو لامل شوي لامل شوي. دا هغه سیاسي کړکېچ دی چې ټرامپ د خپلې ټاکنیزې ژمنې پوره کېدو لپاره له مکسیکو سره د دیوال جوړېدو لپاره پیل کړی دی.

له بل لوري، ډیموکراټانو ویلي چې د حکومت د ځینو برخو تړل کېدو په اړه هېڅ ډول خبرې روانې نه دي. د پیلوسي ویاند دروهامیل ویلي دي: «د خبرو لپاره له سپیني ماڼی تر اوسه هېڅ بلنه نه ده ورغلې.» د دې ترڅنګ ټرامپ د حکومت د ځینو برخو د تړل کېدو په دوام کې په دولتي الوتکو کې د کانګریس د ټولو غړو سفر منع کړی دی. د امریکا په حکومت کې اوسمهال دا ډول اختلافونه دوام لري، دا هغه څه دي چې د اختلافونو ډېرېدل او د حکومت ټوټې کېدل په ګوته کوي.

**ذبیح الله رضوان**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**